SHARIAT
شریعت
اوونیزه
په اوونی کې دوه ځله خپریږي
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان
شپږم کال ۱۰ مه گڼه پرله پسې (۳۹۰) یکشنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د ذي القعدة الحرام (۱۰)
د۱۳۷۹هـ ش کال د سلواغي دمیاشتي(۱٦)د۲۰۰۱میلادي کال د فبروري (٤)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتي بگذارید.

په فاریاب کې دری تنه مخالف قوماندانان له اسلامی اردو سره یو ځای شول

فاریاب – باختر :

د اسلامی امارت د مخالفینو دری تنه قوماندانان د خپلو شپیتو تنو وسله والوافرادو په گډون د فاریاب ولایت په مربوطاتو کی د اسلامی اردو له پوځونو سره یو ځای شول.

قوماندان سید علی ، قوماندان غلام صلاح الدین او قوماندان بشیر چی د فاریاب ولایت د کوهستاناتو ولسوالی په غرنیو سیمو کی له اسلامی امارت سره په مخالفت کی و د اسلامی امارت په وړاندی د مقاومت په نتیجو باندی په پوهیدو سره یې له مخالفت څخه لاس واخیست او د خپلو شپیتو تنو وسله والو افرادو په گډون د فاریاب ولایت په مربوطاتو کی د اسلامی اردو له پوځونو سره یو ځای شول.

دغو قوماندانانو ته د فاریاب ولایت مرستیال محترم ملا دین محمد اخند او د کوهستاناتود ولسوالی ولسوال محترم ملا غلام جیلانی او ددغی ولسوالی نورو چارواکو هر کلی ووایه .

در ولایت هرات از اثر برفباري و سرماي شدید :

وضع مهاجرین وخیم خوانده شده است

روزانه حدود هشتاد الي صد نفر در مراكز صحي تحت تداوي قرارميگیرند

تا كنون به تعداد ٤۰۰ نفر كه اكثریت آن را اطفال تشكیل میدهد تلف گردیده اند

مساعدت هاییكه از طرف مسولین و اهالي شهر هرات با آنها صورت گرفته كافي نمي باشد

در صورت عدم همكاري لازمه امكان حدوث وفیات بیشتر بعمل خواهد آمد

هرات – باختر

از اثر برف باري شدید و سرماي سرد زمستان وضع زندگی بیجا شده گان در كمپ هاي مهاجرین ولایت هرات وخیم و نگران كننده گردیده است .

بالاثر برف باري شدید سرماي سرد زمستان و كمبود مواد محروقاتي و خوراكي باشندگان كمپ هاي هشت گانه مهاجرین ولایت هرات با مشكلات شدید مواجه بوده و با آنكه روزانه هشتاد الي صد نفر مریض در كلینك هاي كمپ هاي صحي متذكره و شفاخانه ولایت هرات تحت تداوي ص ٤

محترم وزیر اطلاعات و كلتور طي كنفرانس مطبوعاتي گفتند :

باید مجامع بین المللي مسئولیت خود را در قبال وضعیت دلخراش مهاجرین هرات درك نمایند

كابل – باختر :

محترم مولوي قدرت الله جمال وزیر اطلاعات و كلتور دیروز طي مصاحبه با خبرنگاران آژانسهاي خارجي در مقر آن وزارت وضع مهاجرین مقیم ولایت هرات را رقتبار خوانده و خواستار كمك هاي عاجل مجامع بشري بخصوص ملل متحد گردید.

محترم وزیر اطلاعات و كلتور ضمن آنكه وضعیت مهاجرین را كه از ولایات غور، بادغیس، فاریاب و ارزگان بخاطر خشكسالي سال روان و تعزیرات ملل متحد ، بالاي افغانستان در ولایت هرات جابجا گردیده اند اسفبار خوانده گفت : این مهاجرین كه تعداد شان به هزاران فامیل میرسد و در كمپ هاي قدایي ، روضه باغ، روشان و منار ولایت هرات جابجا گردیده به مشكلات زیاد اقتصادي دچار بوده و از اثر سردي هوا طي چند شب اخیر به تعداد ۳۲۲ تن از آنها كه اكثراً شامل اطفال ، زنان و موسفیدان میباشند جان به حق داده اند. ص ٤

د ا.ا.ا په هیواد کی د کوکنارو د کرکیلی بندول خپله شرعی دنده بولی

دختیځ زون دتنظیمه ریاست مرستیال

ننگرهار – باختر

دملگرو ملتو دسازمان یوهیات دننگرهار په ولایت کی دمخدره موادو دکنترول دڅرنگوالی دڅیړنی په مقصد دغه ولایت ته ورسید.

دغه هیأت په ترکیب کی چې دافغانستان لپاره دمخدره موادو دکنترول مسئول محترم برنارډ فراهی په اسلام اباد کی دناروی په سفارت کی دمخدره موادو دکنترول دبرخي مسئول محترم شنایدر دپاکستان په باجوړ کی د یو.ان.ډی.سی.پی مسئول محترم عبدالحق صافی او په اسلام اباد کی دکندا په سفارت کی دمخدره موادو دکنترول مسئول محترم پاس برگر شامل وو دننگرهار ولایت ته ورسیدل او دختیځ زون دتنظیمه ریاست له مرستیال ٤ مخ

مولوی عبدالسلام «حنفی» معین تدریسی وزارت معارف « ا.ا.ا »:

درسال ۱٤۲۱ هـ ق به تعداد ۳۲۸۹ باب مدارس لیلیه ونهاری درسراسر كشورفعالیت دارد

انشاء الله در آینده نزدیك درقسمت افزودی معاشات استادان محترم تجدید نظر خواهد شد

شریعت : علاقمندان محترم ! خبر نگار ما به سلسله تهیه گزارشات خویش اینبار سری بوزارت معارف ا.ا.ا زده وپیرامون چگونگی كمیت وكیفیت مدارس ، نحوه پیشبرد امورات محوله وتعدادطلاب شامل درآنها مصاحبه را با محترم مولوی عبدالسلام حنفی معین تدریسی آنوزارت انجام داده است كه اینك به توجه شما عزیزان رسانیده میشود .

درآغاز محترم حنفی چنین گفتند : درمناطق تحت تسلط وكنترول ا.ا.ا تعداد مدارس عصری ودینی كه بطورلیله ونهاری فعالیت مینمایند شمار آنها درسال ۱٤۲۱ هـ ق به ۳۲۸۹ باب میرسد كه ص ٤

نمایي از ساختمان مقر وزارت معارف ا.ا.ا
عكاسي یوسف

معین وزارت امور خارجه با نماینده دفتر سیاسی ملل متحد ملاقات نمود

كابل – باختر :

محترم ملا عبدالرحمن زاهد معین وزارت خارجه در دفتر كارش با نماینده دفتر سیاسی ملل متحد و با مسوول دفتر انسجام كمك های بشری آن سازمان در كابل ملاقات نمود.

طی این ملاقات محترم معین وزارت خارجه ص ٤

په بغلان کی د هوا سړښت مهاجرین له ستونزو سره مخامخ کړیدی

بغلان – باختر :

د هوا سخت سړښت د نوی بغلان او د پلخمری ښار د کمپونو مهاجرین له ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ کړیدی.

د نوی بغلان او پلخمری ښار د کمپونو له مهاجرینو سره د بغلان ولایت د چارواکو له مرستو او هلو ځلو سره سره سخت سړښت په دغو کمپونو کی د لسگونو تنو ٤ مخ

فرانسس ویندرل :

په افغانستان باندی بندیزونه د امنیت شورا لګولی، عمومي منشي یکي بیطرفه دي

امریکا غږ : شریعت

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتو خاص استازي فرانسس ویندرل د امریکی غږ راډیو سره په یوه مرکه کی څرګنده کړیده چی نوموړی لا هم افغانستان ته د سولی د راوستلو لپاره هلی ځلی کوی او وایی چی موږ د سولی د خبرو اترو بیا پیل ص ٤

په افغانستان د ملګرو ملتونو بندیزونه له بشری موازینو څخه سروغړنه ده

ننگرهار – باختر :

د افغانستان د خلکو پر خلاف دملګرو ملتو د سازمان د امنیت شورا بندیزونه پرون د ختیځ زون د عالمانو شورا د غړو او ٤ مخ

در اوسلو جلسه برندگان جایزه نوبل منعقد خواهد گردید

منابع خبري جهان : باختر

حد اقل دو صدو بیست و پنج نفر از برنده گان جایزه نوبل در ماه دسامبر به مناسبت یكصدو مین سالگرد اعطاي این جوایز در شهر هاي ستوكهولم و اوسلو در اجتماعاتي شركت خواهند ورزید. ص ٤

در كشور اكوادور حالت فوق العاده نظامي اعلام گردید

منابع خبري جهان :باختر

حكومت اكوادور دیروز حالت فوق العاده نظامي را در آنكشور اعلام داشت این حالت فوق العاده پس از آن اعلام میگردد كه مظاهرات و اعتصابات در آنكشور شدت گرفته است .

مظاهره كننده گان علیه سیاست اقتصادي ص ٤

درغرب افریقا :

از اثر برخورده هاي شدیدنظامي یكصد نفر بقتل رسیده است

منابع خبري جهان :باختر

از اثر برخورد هاي شدید نظامي در غرب افریقا بیش از یكصد نفر به قتل رسیده است .

طبق گزارش رادیو صداي امریكا این درگیري بین گروپ هاي مسلح وارد شده از سرحد لایبیریا به گیني واقع در غرب افریقا و عساكر گیني صورت گرفته كه از اثر آن یكصدو ده نفر به قتل ص ٤

سیمینار تعلیمي استادان مدارس شهر كابل تدویر یافت

كابل – باختر:

دور دوم سیمینار استادان مدارس متوسط و ثانوي شهر كابل دیروز در مدرسه اماني دایر گردید.

در محفلي كه بهمین مناسبت در تالار آن مدرسه تدویر یافته ص ٤

زلزله شدیدي مناطق غربي هند را تكان داد

منابع خبري جهان : باختر

زلزله شدیدي دیروز بار دیگر منطقه زلزله زده در غرب هند را تكان داد .

هنوز از رقم تلفات و خسارات این زلزله كه شدت تكان آن پنج درجه ریكتر ثبت گردیده گزارش داده نشده است .

هشت روز قبل زلزله بی سابقه یی در تاریخ هند به ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

په هرات کی د کډوالو ناورین او نړیوال ویده ضمیر!

په هیواد کی د ۲۲ کلنی تپل شوی جگړی په خوا کی د تیرو دریو کلو وچکالی د ټولو افغانانو ستونزی یو په دوه زیاتی کړی خو په دی لړ کی ځینی ولایتونه ډیر زیانمن او حتی بشپړ کلی په کوچ او بار مجبور شول چی د بادغیس ، غور او بامیانو یو غټ شمیر کډوال د همدی لړی قربانیان دی کوم چی اوس د هرات په پنځو پنډغالو کی میشت اوله (۸۰) زرو زیات وگړی پکی ژوند کوی، د افغانستان اسلامی امارت چی په هر اړخیز ډول د ۲ مخ

شریعت

د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوي ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع و شکایات : ٦۲۸٥۹
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

خپل ولس په درد خوږمن دی له خپل وس سره سم یې د دغو کړوالو مرسته وکړه او تر ننه لا دوام لري خو دا یو څرګند حقیقت دی چې د امارت لاس تنګ او وسایل محدود دي نو له همدې کبله د کړوالو ستونزه د امارت لپاره یو دروند پیټی وګرځیده له بلې خوا نړیوالې ټولنې هم چې د مغرورو سیاسي ځواکونو تر اغېزې لاندې او اصلاً زموږ په هیواد بلکې ټوله دریمه نړۍ کې په خپله د همدغې ناخوالو اساسي عوامل یې را منځ ته کړي، همیشه د خپلو شومو اغراضو پیروي او په هر ډول بشري فاجعه کې هماغه خپل سیاسي اهداف تعقیبوي. په هر صورت د ژمي د سختې سړې څپې له راتلو سره سم د نوموړو کړوالو حالت د یوه لوی بشري ناورین تر بریده رسیدلی اوس دا د ټول خواخوږي بشریت فرض دی چې له هر ډول سیاسي تمایلاتو پرته ددغو کړیدلو انسانانو مرستې ته راودانګي او دې ته یې اړنباسي چې یو ځل بیا کډې بار او د کوم نا معلوم منزل د لارو قرباني شي باید یادونه وکړو چې غرضي حلقې تل هڅه کوي په هیواد کې دننه حالات لا هم خراب او یو شمیر اړ او بې وسه خلک بهرته تشویق کړي.

دا هم یو حقیقت دی چې مغرض هیوادونه ددې ډول انساني فاجعو اصلي مجرمین او د اسکیرلي او مظلوم بشریت بې رحمه قاتلان دي، دغه قوتونه یوازې په سختو او بحراني شرایطو کې خپلې ګټې تر لاسه کوي او غواړي د نړیوالو سترګو ته خاوري ور وشیندي د هرات کړوالو د ناورین له اوازو سره سم د یوې اندازې غنمو مرستې اعلان هم د همدې ډول یوه هڅه ده او دا ځکه چې همدغه خواخوږي امریکا ده چې په افغانانو یې اقتصادي بندیزونه لګولي، الوتکې یې بندې کړې، بهرنۍ پانګوال شرکتونه یې زموږ په هیواد کې له کار او پانګې اچولو منع کړي او بالاخره یې له دغسې یو وضعیت سره مخامخ کړي یو آیا همدا امریکا نه ده چې د ترکمنستان او پاکستان د ګاز پایپ لاین غځولو په کار کې خنډونه اچوي کوم چې یې له شکه زموږ د اوس مهال په شرایطو کې فوق العاده اهمیت لري او همداسې نور ډېر اقتصادي پروګرامونه خو په هر صورت د یو ملت د لاس پښو تړلونه حتماً همداسې نتایج منځ ته راځي او ښایي لا هم نور ډېر خطرناک حالات وو ښئ چې په ترڅ کې به یې مغرضین او مستکبرین بیا هم د ښه لقب موندلو او له بندیزونو څخه د خلکو پام اړولو هڅې کوي. خو ددښمنانو او مغرضینو له دې ټولو کینورځو سره سره تر ټولو زیات مسؤلیت بیرته زموږ افغانانو په غاړه دی چې باید رعیت او حکومت په اخلاص اوربښتینولي د خپلو شرایطو په سمولو او نیستمنو هیوادوالو سره د مرستې په هلو ځلو کې چټک ګامونه واخلي او پر دیو ته د ناوړه ګټې اخیستنې موقع ورنه کړو.

کچکول تر غاړې د کرملین او واشنګټن په کوڅو

فاروق

غوښتل مې د نصیحت او لورینې په دود یو څه خواله ورسره وکړم خو له حسد او رخې ډک ناحقه چلند او څرګندونو یې بېخي نهیلی کړم نو ځکه اوس بنایي په دې کړښو کې یوازې او یوازې د خپلو احساساتو په ښکاره کولو د زړه براس وباسم او بس. دا هم باید ووایم چې د هغوی بدماشۍ او له جفا ډک وضعیت دومره متأثر کړی یم چې اوس د خپلو جذباتو د اظهار لپاره سم / مناسب ټکی نه شم موندلای. نه پوهیږم څه ولیکم. کومه ګیله ترې وکړم او څه ډول تعبیر؟ هو، هغوی زموږ خپل وضع دار پادیري، بېخي حبل حلک د مسلمان ورونه...! خو له بده مرغه په یوه معیار هم حساب ته نه راسره کیني، نه د مسلمانۍ په حساب، نه د خپلوۍ او نه د وطن دارۍ په توګه، بلکې بېخي پخلاینه نه مني، او لکه چې د تل لپاره یې زړه را څخه موړ وي، شپه ورځ مو له دښمنانو سره سلا مشوري کوي. نه یوازې مشوري چې ان د ګردې نړۍ د کفارو وسلې او باروت هم له موږ سره د جنګ او جګړې لپاره نا کافي بولي خو د وسلو راوړل یې هم دومره زور نه راکوي لکه هغه سر کوزي، متازې او ذلت چې له مسلمانۍ او افغانیت سره سره یې پر ځان منلي او بیا زموږ د هغو دښمنانو په درشل دروېزې کوي چې لا پخوا مو په ډېره میړانه ځغلولي او لوېي لوېي پاچاهي مو ترې پاتې کړې وي... هغه ټولې کیسې ورته معلومې دي خو بیا هم روان دي کله ډیلي ته ځي، سوالونه کوي او وسلې باروت راوړي خو هغه وسلې بس نه بولي چې زموږ توربالیو نیکونو په هماغه پاني پت کې په سر لوري سره له هندوانو راولجه کړې وې او کله کرملین ته هغه چې سټر شوروي اتحاد یې زموږ له لاسه ونړېد او ښې ډېرې وسلې او مردکي مو ترې پاتې کړل.

اصفهان او مشهد ته هم زارۍ کوي خو هغه ټوپک نه غواړي چې د ګورګین، له ککرۍ سره یو ځای کوټه پر میدان پاتې وو او د لندن له پرنګیانو نه سوالونه کوي خو هغه توپونه یې هیر دي چې له مکناټن او کیوناري پاتې دي او اوس کچکول په غاړه واشنګټن ته ځي چې هابله ورځ یې په خپله او له ډېرو غدرونو سره هر څه کوزته، راوړل او موږ یې له ډیر غروره لاسونه هم نه وراوږدول ...

هو زموږ وطن دار سره له دې چې په ډېره عاجزه غاړه دا ټولې دروازې ټکوي، بیا هم بېخي تش کچکول خو نه ورځي، بلکې هر چا ته له هغوی سره مناسب د خپلو دیني او ملي ارزښتونو په سر سوداګري او د معنوي سوغاتونو یو څه له ځان سره ور وړي مثلاً ډیلي واکمنو ته د کشمیري مسلمان ولس په لتاړولو او کړولو کې د ملاتړ ډاډ ورکوي، کرملین ته د منځنۍ اسیا د مسلمانانو په ځورولو کې او واشنګټن ته هم د هغوی له مزاج سره سم د ښځو د حقوقو او دیموکراسۍ لاپې وهي. هو سپینې مانۍ ته خو په دې ویلو هم مجبور دي چې هله د ازادۍ او دیموکراسۍ لپاره مو له مذهبي قوتو سره جګړه ده، موږ وپیژنئ... وسلې او پیسې راکړئ او ګورئ کنه چا درته ویلي وي چې دا خلک په خپله هم مسلمانان دي نو واورئ موږ یوازې هغه اسلامي احکام منو چې له دود دستور سره مو سم او نړیوال نه پرې خپه کیږي...! مګر زموږ مقابل لوری خو ډېر خطرناک دی، نه ګوري چې د «اسلامي امارت» په نامه یې د ګردې نړۍ مسلمانانو ته ځاله او پنډ غالي جوړ کړې...!

هو کې زموږ وطن دار ډیر لالهانده او سرګردانه دي شپه ورځ په منډو ترړو کچکول په غاړه ګدایي کوي خو افسوس چې زموږ کړېدلو ځورېدلو هیوادوالو ته څه غله دانه او دارو درمل نه راوړي بلکې مرګ راوړي او د مرګ او ژوبلې سامان... وطن دارو له دښمن سره لاس یو کړی او زموږ د لاس پښو تړلو په چارو بوخت دي او لا دا هم وایي چې د هیوادوالو لپاره یې ډېري نوري ژولنې او ځنځیرونه هم په کار او دا موجوده بالکل ناکافي دي بنایي واشنګټن به زموږ له مرور وطن داره ډېري نور څه هم وغواړي او دوی به یې هم ورسره ومني. کیدای شي زموږ ناړامه وطن دار ته معلومه وي چې سپینه مانۍ نسبتاً غوره او ښه ورشو ده او ممکن زموږ دواړو پروفیسرانو هم دا خوښه ورکړې وي چې اوس د همدې ډول ناړو وخت دی نه د «سل په سلو کې اسلامي نظام» شعارونو! هو کې دواړه استادان په دې ښه پوهیدلي چې راځي دا ځل د روس امریکې دواړو د شریکو موخو لپاره کار وکړو، چې هغه له اسلام سره جګړه ده ځکه نن سبا خو یوازې د همدوی په درشل کې سړی د روزۍ خاوند کیدای شي...!

پاتې شو افغان مومن ولس چې په درویشت کاله جنګ جګړو سره یې د خپل هیواد ایله ۹۵٪ خاوره له روسي مداخلې وژغورله او پاتې برخه لا هم د هغوی د جنرالانو او نظامي کارپوهانو د چکر او هواخوري سیمه ده، چې دا ستونزې هم ټولې د روسانو له پخوانۍ دوستۍ را پیښې شوې. خو دا د خدای فضل و چې دې بل زبر ځواک (امریکا) یې ښه او یې بده په خپله، آشنایي په دښمنۍ راسره بدله کړه، کنه له هغه سره به مو څه کول اوس چې زموږ پروفیسرانو له نوي سره د دواړو د رضا کولو هڅې پیل کړي او نور له هر څه بیزاره دي اندېوالي دې یې بخښوره او کچکول دې یې ډک وي موږ په دغو شیانو کې هیڅ برخه نه ترې غواړو خو صرف یوه هیله لرو او یو سوال ترې کوو او هغه دا چې د خدای «ج» لپاره نور خو دې ځان ته «مجاهدین» نه وایي.

د عامې روغتیا په ډګر کې د اقتصادي بندیزونو ناوړه اغیزې

طبیب محمد نذیر احمدزی

په کومه ورځ چې د ملګرو ملتونو د امنیت جرګه ګۍ په ډېره ظالمانه او ناروا توګه پر ځوریدلي افغان ولس باندې یو ځلې بیا د تیر کال پلې شوي اقتصادي بندیزونه تایید او له یو څه نورو ظلمونو سره یې د یوه بل کال لپاره اوږده کړل نو د امریکې د بهرنیو چارو د وزارت ویندوی جیمز روبین د یوه خبریال ددې پوښتنې په ځواب کې چې آیا دغه بندیزونه به د افغانستان پر عام ولس بدې اغیزې ونه کړي؟ په ډېره غیر علمي او بې منطقه لهجه ووېل «نه!! دغه بندیزونو اغیزې به یوازې د افغانستان پر حکومت وي او په افغانستان کې د عام ولس په ژوند او د بشري مرستو په بهیر هیڅ کومه بده اغیزه نه کوي ځکه له دې چې په افغانستان کې د بیوزلو خلکو پر روغتیا او په عمومي توګه د عامې روغتیا په بهیر باندې د نوموړو بندیزونو د ناوړو اغیزو په هکله څه ولیکم له جناب روبین څخه دا پوښتنه کوم چې که همدا نن د امریکې حکومت تاسې جناب ته په میاشت کې د لس زرو ډالرو تنخواه پر ځای براځي سل ډالره درکړي آیا ستاسې د کورنۍ پر ژوند به بدې اغیزې ونه کړي آیا بیا به تاسې وکولای شئ چې خپلو ماشومانو ته ډول ډول خواړه او میوې برابرې کړئ؟ آیا د هغوی د ښوونځي د میاشتني لګښت لپاره به وکولای شئ چې دوه سوه ډالره فیس ورکړئ او که هغوی ناروغه شي نو د درملنې لپاره به یې پنځه سوه ډالره د ډاکتر د فیس ورکولو وس ولرئ چې د هغوی علاج وکړئ؟ په دې توګه آیا تاسې به د عوایدو د کموالي له کبله د خپلې کورنۍ د خوراک، درملنې، ښوونې او روزنې او نورو چارو کې له ستونزو سره مخامخ نشئ؟ پرته له کوم دلیل څخه بنایي جیمز روبین په دې خبره راسره هم غږی شي او هو ووایي، همدا شان که د یوه هیواد واکمن حکومت د یوه کور د مشر په څیر وګڼو او پر نوموړي حکومت باندې هر څه کم کړو او هغه شتمني چې د یوه هیواد د ورځنیو چارو د پرمخ بیولو او ټولنیز پرمختګ لپاره یې موجودیت حتمي دی تر ینه واخلو. نو آیا نوموړی حکومت به بیا وکولای شي چې خپلو کارکوونکو ته پوره اندازه معاش، د هیواد د بچیانو لپاره د ښوونې او روزنې مراکز او د هغوی لپاره روغتیایي مجهز مرکزونه برابر کړي او چې نوموړي ټولګټي څانګې په یوه هیواد کې په لازمه کچه د خدمت لپاره چمتو نه وي آیا د نوموړي هیواد د خلکو ژوند به ورځ په ورځ خراب نشي، آیا په نوموړي ولس کې به لوږه بې علمي ناروغي او نور مصیبتونه را منځ ته نه شي او چې دې ټولو ته وګورو په یوه عمومي کتنه کې آیا نوموړي مصیبتونه د عام ولس پر ژوند باندې بدې اغیزې نه دي؟ او آیا نوموړي ستونزې د یوه هیواد د حکومت د اقتصاد د کمزورۍ له کبله منځته نه راځي؟ چې داسې ده نو بیا څنګه ښاغلی روبین استدلال کوي چې په اسلامي امارت باندې اقتصادي بندیزونه د عام ولس پر ژوند بدې اغیزې نه کوي.

زه د یوه افغان طبیب او د کابل ښار د یوه روغتون د مسول په توګه خپلو امکاناتو او په اصطلاح بهرنیو بشري مرستندویه ټولنو ته په کتو سره په زغرده دا وایم چې نړیوال اقتصادي بندیزونه په افغانستان کې تر هر چا د مخه د ډېرو خوارو خلکو د ژوند پر بیلا بیلو اړخونو ناوړه اغیزې پریږدي او د دوی دا استدلال چې نوموړي بندیزونه د عام ولس پر ژوند بدې اغیزې نه کوي په کلکه ردوم دا ځکه چې که اسلامي امارت چې د افغان ولس مشرتوب په غاړه لري په لاس کې څه ونه لري او د خپلو خلکو ستونزې هوارې نه کړي بهرنۍ خیریه مرستې به یې هیڅکله نشي هوارولای. د مثال په توګه د تیر عیسوي کال په اوږدو کې یوازې یو ځل نړیوال روغتیایي سازمان او یو ځل هم د بې سرحده ډاکترانو ټولنې زموږ له روغتون سره په ډېره کمه اندازه د درملو مرسته کړې چې هغه هم د شخصي اړیکو پر بنا تر سره شوې نه په اصطلاح د هغوی د بشري خواخوږۍ پر اساس همدارنګه له پنځو شپږو میاشتو را په دېخوا د ملګرو ملتو د خوراک اداري خپلې مرستې د کابل ښار په ټولو روغتیایي مرکزونو درولې، نو آیا پورتنۍ په اصطلاح بشري مرستې چې زموږ له روغتون سره شوې د یوه اویا بستریز روغتون د پوره یوه کال لپاره کافي دي؟ او چې د اسلامي امارت اقتصادي حالت نور هم کمزوری شي او د اوسني خوراک، درملو او یا تشکیلاتي جوړښت اندازه چې د ملي بودجې په رڼا کې ټاکل کیږي نوره هم راکښته شي نو بیا به وکولای شو چې یو فعال روغتون ولرو، روغتیایي ماهرین هلته د ناروغانو لپاره په کار وګمارو او ناروغانو ته درمل برابر کړو؟ آیا د یوه روغتون د دروازو تړل کیدل او د طبي ماهرینو له کاره ګوښه کیدل د عامو خلکو په ژوند بدې اغیزې نه کوي؟

په اوسني حالت کې چې د عامې روغتیا وزارت ته په ډېره لوړه کچه د کلنۍ لګښت بودجه جلا شوې ده خو بیا هم د هیوادوالو روغتیایي ستونزې نشي حل کولای د مثال په توګه د روغتون د ناروغانو د درملو لپاره د میاشتې یو ملیون او سل زره افغانۍ تخصیص ورکړل شوې دي حال دا چې نوموړی تخصیص زموږ د یوه ناروغ د ډېرو ورځو درمل نه پوره کوي، دا خو لا پرېږده چې اویا تنو ناروغانو ته پوره یوه میاشت درمل پرې برابر کړو، نو د مجبوریت له مخې ناروغانو ته له بازاره د درملو د رانیولو توصیه کوو او ډېر داسې ناروغان شته چې د درملو د رانیولو توان نلري، په دې صورت کې آیا څوک احساس کولای شي چې د نوموړي ناروغ، د هغه د خپلوانو او هغه ډاکتر چې نوموړي ناروغ تداوي کوي حالت به څنګه وي دا چې ناروغ د دوی ټولو د سترګو په وړاندې د درملو د نشتوالي له کبله خپل ژوند له لاسه ورکوي، ددې دلیل پرته له اقتصادي ستونزو څخه بل څه کیدای شي؟ او چې د حکومت اقتصادي حالت ښه وي نو آیا نوموړی حالت به یې زغملی و او آیا د یوه اویا بستریز روغتون د درملو لپاره به یې په میاشت کې یوازې یو ملیون افغانۍ تخصیص ورکاوه؟ حال دا چې د یوه وزارت کلنۍ لګښت د یوه منظم پلان له مخې د مسلکي ماهرینو له لوري څرګیږي

پاتې لري

متصدي صفحه : محمد رفیق "عزت"

د شعر او ادب نړۍ

ستــا پـه اننگو کې د حـمـزه د وينو سره دي
ته شـوي د پښتـو غـزلـه څوان زه دي بابا کرم

د گل جنازه

لاهو

شنوربښو ته د هر بوټی خدايږو پر دی
مو دی وشوی چی مو سیند له تندی مړ دی
راوړيږی له شنو ستورو تند رونه
د لالونو په جامو کی سره اورونه
اوف پخی شوی په سره اور کی نه چغيږی
زمونږ غوښی اوس په گونگه خوله لوگيږی
بو څوک شته چی د سره گل جنازه وکړی
کربلا ته می د مينی پيغام بوسی
حسين جان ته می داوښکو ډک جام بوسی
بو څوک شته چی د باران څيره بی يادوی ؟
تکی مينه ورسره د جانان څيرهٔ یی يادوی

هاغه واوری می یادیږی

ملامحمداصغر «عاکف»

دوطن له هرموسمه څار . کـه به سور ژمی ، کرنگه څیله اوگز واوره پرته وه ، سمه اوغر به داسی بریښیده لکه سپینه هگی اود سپختو ـ و له لاسه به سهار مهال دچنارو له سره کارغان مړه رالویدل خو هغه وخت لاښه وتکه چی د واوری اوبارانو په زيات اوربښت به چینی او کاریزونه بنه مست بهیدل اودسر دروکـولا بونه به را وتل دقـاتی (قـحطی) او وچکالی چا نوم نه پیژا نده ، کندوان به مـوله اوړو ،غنمو ،نسکو اوجوارو تل ترخولی ډک ؤ ، د پسونو لاندی غوښی به کوټه پرتی وی کورت اونگه غوری (دغـواوو اومیـږو)به پریمانه و ،دهرکـاله په جارگی (دمـالونو دورځی ځای)کی به کـورنی ، ځای بند پسونه اولنگی غواوی ولاړی وی .

خونسیم اکـا چی وراندی څو پرله پسی تاوده اوپاسته ژمی په ننگرهاکی تیرکړی و نودا واړه (تول)نعمتونه یی په هیڅ گټل اوتل به یی له واورو سـر تکاو او ویل به یی : کـه ژوند یاری راسره وکړه له کاله به ژمی دلته تیر نکړم اوزیاتوله به یی چی د خدای «ج » لپاره ! دا څه حال اوداڅه ژوند دی چی تیروو یی ، گز واوره پرته یوا ځی کور ،پښتاوی او دجومات چوتره په گټه کی را پاتی دی ،مونږ څوانانو به چی دنسیم اکـا داخواشینی حال کوت نو په زاریو به مو دسویانو دښکار لپاره غونډیو او سارانه بیوه ،اوکله به مو له ځان سره دلخچک غونډی سرته بوته چی مه کوه لړ سات یی تیر شی ،مونږ به دلرگی په تختـه کښاستـو او دغونډی تر بیخه به د واوری په سر دگړندی موترپه شان تلو خو چی کورته به راستنیدو نونسـیم اکـا ته به مـو ویل چی څنگه یی څه ناڅه سات دی تیر شو ؟ هغـه به بیا سر په نه وښوراوه اودواړه لاسونه به یی پورته کړل چی : خدایه پاکه ته پسرلی راولی !

یووړځ واوره څپک څپک اوریده کـه څه هم نور خلک ورته خوشاله و خو دنسیم اکا دزړه رایه هم له چا پټه نه وه مونږ څو تنه چی د جـومـات په برنډه کی ولاړ و اود واوری د اوریدو سیل موکـاوه چی گورو نسیم اکا له کاله څخه جومات ته چټک چټک په منډه کی را رهی دی کمبلی یی سپینه واوره نیولی وه چی دجومات برنډی ته را ورسید تور بو ټونه یی له مخکی سره په زور سره ټپ ټپ وټکول او کـمبله یی هم ټکوهله په توبه توبه ویلو جومات ته ننوت ، دامهال مونږ په ورو وویل : واوری اوریږه اوریږه ! نسیم اکا په غورو ډیر بیدار و ، زمونږ داخبری یی ښی وا وریدی خو څه یی ونه ویل ،سبا چی لاری اومنډونه څیری شـول ، مونږ بیا په بیگانی ځای ولاړ و چی کـاته مـو نسـیم اکـا غـوا ترمخ کـړی داوبو گـودرته یی بیـایی دلاری دواړو غـاړو ته دومره واوره پرتـه وه چی دنسیم اکا غوا پکی پټه وه او دده ایله سر اوغړی ښکاریده نو یی مخ را واړاو اوزمونږ دپرونیو خبرو په ځواب کی یی په بدله لیـجـه وویل : اوریږه واوری اوریږه دغه ده واوره .

که څه هم هغه ژمی د ډیرو واورو له امله ډیر اوږد اودروند و ، دژمی په وروسـتی میاشت کی خو به چی چاد کومی مرغی چڼ چڼ وا وریده نو هغه به یی د پسرلی بلبل گاڼه اوکــه به هلکانودوبالو له غـاړو دشلمـغکوشتی پانبی راوړی نوشکر به یی ایسه چی له ژمی ووتو اوپسرلی مو نیمه خوا نشو خوځه به ووایی دځنډنیو هاغه خبره خو هم خـوشی نه ده چی ویلی یی دی «وطن له زرو ډک بنـه دی اوکـه له واورو ؟ وای نه له واورو »

خو د راتلونکی بل کال ژمی بیا داسی نه و لکه د تیر ، له سږو تیکه نه کـیده مگر واوری به مازی ځان راښکاره کړ اوسبا به نه وه ، د کـرل شـوبو غنمـو بوټی له سرو (یخنی) بوټ -بوټ راوخاته په پسرلی هم دنه اوربښت له امله نه چا ملمی وکـرل او نه باری ، چینی او کاریزونه داسی را چوښدل چی نه به دی زړه پری ښـه و اونه بد ، له وچکالی سره کـاتی (قـحطی) ملگری وه چاچی څه زیرمه کړی و نرخونه یی اسمان ته جگ کړل هاغه ترخی وریجی هم لاښی شوی چی خدای «ج »کوم هیواد را باندی مهربانه کړ اورایی کړی .

نسیم اکـا چی تر اوبولاندی اوللمی مـځکی ښـه اوخـوره برخـه درلوده ، نو دواوری اوبارانی کلونو په ترخ کی به یی پریمانه غلی دانی اخیستی او هغه به یی چی ویلورلی په پیسـو به یی سـوداگری کـوله اوله دی امله به یی ژمی ننگرهار ته وړر ، خوسږ کال چی په ژمی واوری نه وی نویه دویی دده غلی دانی نه وی مـونږ به ورته ویل نسـیم اکـا متی په را بریدو دی **اوژمی هم پسی را روان دی په ژمنه ولاړ یی او که دی هیره ده ، نسیم اکابه ویل ځوانی مرگانو کومه ژمنه ؟ مونږ ورته ویل هیر دی شو چی مونږ ته به دی غوسه اوبدله لیـجـه ویل اوریږه واوری اوریږه دغه ده واوره .نسیم اکا به له خولی په ساړه اسویلی وویل آخ ځار ترهمـاغـو واورو هاغـه واوری می یادیږی .**

ضرب افغان

محمد کریم «سکوت»

ارتش روسي و سـرخ بی حـیـا — از جـهـالت کـرده بس جـرو خطا
عـزم، هضم کـشـور مـا را نمـود — باب ذلت را بروي خـود گـشـود
حـامـیـان فـتنه و وحـشي گـري — بر طلـم فـتـنـه اغـواگـري
زخم خـونین خـورده از شـمشـیـر ما — تا ابد عـرق است به اندوه و صدا
تا هنوز رنگش خـزان و ابتـر است — پیکرش مـجروح او در بستـر است
ضـرب افـغـان پیکر دشمن شکست — پـرچم آزادي، آورده بـدسـت
اجنبي دیگري از هر کـجـا — چشم طمع گـر گـشـاید سـوي مـا

آزادی

اسد الله نیازی

زمونږ کلا د غرونو شانه
د ډبرو بی دی ورونه
دننگ زلمی یی کور بانه
د فولادو یی هیونه
* * *
دځبلیو یی شغاوی
لکه باد په سرې تیر شی
چی درواړوی سری سترگی
دنیکه نوم په دی هیر شی
چی د غرونو شانه اوسی
څوک همزولی څوک مشران دی
ارت گڼ گڼ کمیسونه
ته به وایی تور بازان دی
* * *
چی د ننگ توری ډگر ته
په تکبیر نغاره ووزی
په غاصب یی وی مور بوره
چی په هره لاره ووزی
* * *
څکه! آزادی د تن په وینو
په میړو ساتله کیږی
آزادی نه راوریږی
آزادی گټله کیږی
* * * * *

خاطره

حمیدالله شبتم عالمي

د سپرومی رڼا ته ناست وم
په شکیدلی گریوان
خاطره می یو نا څاپه
زما په حال باندی
د میلاده سره
ځمکی اسمان وژړل
چی را په یاد شوه کله
شاهدی ستوری وایی
اوښکی په لپو لپو
شاهدی ستوری وایی
شوی رارواني
شاهدی ستوری وایی

صلح

محمد ضیا «کوشا»

خـوشـا کـه صلح بیـاید به کـشـور من و تو
خـوشـا کـه باده وحـدت به سـاغـر من و تو
خـوشـا کـه مـوسم رویش به باغ مـا گـذرد
نـهـال همـدلي رویـد به بـاور من و تو
خـوشا کـه دست همـه مـشت مـتـحـد گـردد
براي کـرفـتـن خـصم بي سـر من و تو
مگو کـه مـا و تو تنهـا چه مـیـتـوان کـردن
شـود خـداي جـهـان یـاور من و تو
بیـا کـه مـزرعـه خـود دهیم از عـرق آب
چه غم کـه ابر نبـارید بر سـر من و تو
به دار دیـو اسـارت بیـا بیـا ویـزیـم
کـه روح حـریت آویـز پیـکر من و تو
جـوانه زد گل امـیـد مـا ز خنده، صـبح
ز خـواب سـیـر مگر گـشـتـه اخـتـر من و تو
مـیـان «مـا» نبـود کـاش بعـد از این تو و من
ره «مـا» به مـاه رسـاند زمـان فـر من و تو

پوهیالي لیلما «یما»

۱۸ شرح منظومهء عروج و نزول اسلام

ندا، تنبیه و هوشدار به مسلمین جهان

آتش غیرت مسلمین را شعله ور سازید!

بند ٦۹:

ز آتش غیرت بر انگیزید خاص وعام را — در ستیز آرید اینك سر به سر اقوام را
بار درکار آورید آن غیرت اسلام را — گرم گردانید خون سرد ننگ و نام را
کر کنید از ناله هیهات گوش اسمان — بر کشید از برق آه حیف خود دود از جهان

شرح: شاعر در این بند یکبار دیگر مسلمانان رهبر و رهنما را تشویق وترغیب نموده میگوید که شما تمامي مسلمانان اعم از خواص و عوام را به شور و حرکت در بیاورید و ایشان را براي ستیز علیه کفر و الحاد آماده بسازید و در این راه از غیرت و همت والاي اسلامي استفاده نموده و خون ننگ و غیرت را که تا حال سرد است به جوش آورید و چنان ناله و فریاد و سرو صدا بلند کنید که گوش آسمان کر شود و از برق آه و افسوس شما، دود از جهان بلند گردد.

مقصد شاعر درین بند آنست که به اثر دادن خود آگاهي و تبلیغ راست و درست میتوان نطفه هاي همت و غیرت را در وجود مسلمین پدیدار ساخت و ایشان را به شور و حرکت واداشت. و با سردادن شعار هاي : افسوس و دریغ اي مسلمانان که ما و شما از اثر نفاق در منجلاب بدبختي غرق شده ایم و حیف است که درین منجلاب باقي بمانیم. راهي وجود دارد که ما را دو باره به قله شامخ ترقي و تعالي عروج دهد و آن راه، راه اتفاق و اتحاد و جهاد و مبارزه علیه تنبلي غفلت و سستي و عقبماندگي است .

مسلمانان سراسر جهان با هم متحد شوید !

بند ۷۰:

چشم انجم را کنید از دود حسرت اشکریز — قلب عالم داغ سازید از فغان شعله خیز
در طریق طي مقصد گام بردارید تیز — تا کسي از دام این تدبیر نتواند گریز
متحد با جمله، اسلامیان یاري شوید — مجتمع چون دانه هاي سبحه در تاري شوید

شرح : اگر مسلمانان با هم متحد و متفق شوند و مانند دانه هاي تسبیح در یك رشته که همانا رشته، اسلام است با هم جمع بیایند و یك مجتمع متحد را بسازند و قاطعانه و با سرعت در راه رسیدن به مقصد و هدف گام بردارند بدون شك هیچ کس از دایره، تدبیر آنها بیرن نخواهد ماند و از حسرت اتحاد واتفاق آنها چشمان ستاره گان اشکریز خواهد شد و قلب کساني که از اتفاق و همدلي مسلمانان رنج میبرند داغدار خواهد گشت .

توضیحاً باید گفت که کسي از اتحاد و اتفاق مسلمین رنج میبرد که سود وي در نفاق نهفته است چنانچه ما در زبان دري ضرب المثلي داریم که گفته اند : تفرقه بینداز و حکومت کن » و این نفاق انداز بدبخت استعمار است. چه، استعمار، خوب میداند که اگر مسلمین سراسر جهان با هم اتحاد کنند، قرار گرفتن آنها در یك صف واحد علیه استعمار حتمي است پس چه زیبا و دل انگیز است جمع آمدن مسلمین در یك رشته و جهاد شان علیه استعمار.

از اتحاد عنایات الهی نصیب مسلمین میشود

بند ۷۱:

چون به حسب خاطر ما اتحادي دستداد — دامن مطلوب از سعي شما در کف فتاد
باز قصر اخوت ما رو به آبادي نهاد — آنزمان با همدگر بودیم بر مهر و داد
چون تمامي عالم اسلام همدستان شدیم — وزعنایات خدایي یکدل و یك جان شدیم

مسلمانان به مقتضای زمان حرکت کنید!

بند ۷۲:

پس دراندم حسبنا الله گفته اي دانشوران — با هداياتي قرار اقتضاي این زمان
امر و تبلیغ وفاق آخر دهید از بهر شان — تا به صد جوش و خروش و شوق خلقي کف زنان
از براي شاهد مقصد سربازي کنند — همچو دور اولین کسب سر افرازي کنند

تذکر : قبل از شرح دو بند بالا باید گفت که چون بند هاي ۷۱ و ۷۲ باهم ارتباط نزدیك دارند و بند اولي مبتدا بوده و دومي خبر است بناً به صورت یکجایي به شرح آن میپردازیم.

شرح: وقتي که مطابق خواست و آرمان ما اتحاد اتفاقي در میان مسلمین به وجود آمد و ما مسلمانان توانستیم در اثر سعي و کوشش به مراد و مطلب خویش برسیم و قصر اخوت و برادري ما مسلمانان دو باره رو به آبادي گذاشت و قلب هاي ما ما لا مال از مهر و محبت و عطوفت گشت تمامي عالم اسلام (اعم از کشور هاي اسلامي و اجتماعات مسلمانان) باهم متحد و همدست گشتند واز لطف و مرحمت الهي یکدل و یك جان و یك زبان شدند آنگاهست که حسبنا الله گفته (یعني بگویید همین قدر بس است که ما توکل به خدا داریم و اتکاي ما به خداوند است) خطاب به صاحبان علم و دانش نموده که اي علما و دانشمندان مردم را مطابق شرایط و اقتضاي زماني که در آن زیست میکند، هدایت و رهنمایي نمایید و به ایشان اوامر الهي را تبلیغ کنید و همکاري و ساز واري را به آنها یاد بدهید تا با جوش و خروش فراوان و رضایت خاطر به خاطر بدست آوردن هدف و مقصد خویش برزمند و مانند ایام دوران صدر اسلام سر افرازي و کامیابي را کسب نمایند.

چنانکه الحاج خلیل «رح» در بالا ذکر نموده است یکي از موضوعات اساسي که باید در مورد تعلیم و تربیه در نظر گرفته شود این است که طالب العلمان باید به مقتضاي زمان اموزش ببینند و مسلح با مدرن ترین سلاح علم و دانش باشند تا بتوانند دوشادوش کاروان ترقي و پیشرفت علمي حرکت کنند. **ادامه دارد**

د ا.ا.ا په هیواد کی د ...

محترم مولوی صدراعظم سره یی وکتل.

ددغی کــــتنی په بهیر کی محترم برنارد فراهی افغانستان ته دخپل سفر دهدف دبیانولو په ترڅ کی وویل: دکوکنارو دکرکیلی دبندولو په باب داسلامی امارت دمقام دفرمان له صادریدو وروسته غــوارم له نږدی وګـیـرم چی په دی باب څومره فعالیت شویدی.

په مـقـابل کی دخـتـیـځ زون دتنظیمه ریاست محترم مرستیال په هیواد کی دکوکنارو دکرکیلی دبـخی بندولو په باب د عـالیـقـدر امیرالمومنین دفرمان هدف هیات ته بیان کړ او څرګنده یی کړه چی دوی کــولی شی دننګرهار ولایت اړوندی ولسوالی وګوری.

دختیځ زون دتنظیمه ریاست محترم مرستیال زیاته کړه اسلامی امارت په هیواد کی دکوکنارو دکرکیلی بندول خپله شرعی دنده اومسئولیت بولی اودهغو ناورو زیانونو اوپایلو په پام کی نیولو سره چی له دی امله پیدا کیږی هغـه منع کـړیدی او دملګرو ملتو دسازمان اودنورو موسسو لخوا دهیواد له کروندګرو سره مرسته دکروندګرو داقتصادی حالت په پام کی نیولو او په نورو بوټو دکوکنارو دکرکیلی بدلولو ته دهغـوی دهڅونی په پام کی نیولو سره په دغو سازمانونو پوری اړه لری اوتاسی په هغی څیرنی سره چی دزراعتی ساحو اودکوکنارو دکرکیلی دبندیز دڅرنګوالی په باب یی کوی باید حقایق نړیوالو ته منعکس کړی.

په بغلان کي ...

اوسیـدونکو ژوند له خطر سره مخامخ کړیدی او د زیاتو ماشومانو بنځو او بوډاګانو د مرګ ژوبلی امکان شته.

د بغلان ولایت د مقام لخوا بوه اندازه خوراکی مواد او د ډیرو سکاره په مهاجرینو باندی ویشل شویدی خـو څرنګه چی تر اوســه پوری د ملګرو ملتو د سازمان او د نړیوالو مرستندویو موسسو لخوا ددغو کمپونو له اوسیدونکو سره کومه مرسته نده شوی له دی امله په دغو کمپونو کی د مهاجرینو حالت خراب او له اندیښنو ډک دی.

د بغــــلان ولایت د شهیدانو او مـهاجرینو د چارو رئیس محترم ملا سید بحر الدین د ملګرو ملتو له ســازمــان او لـه نړیوالو مرستندویو موسسو څخه غوښتنه کوی. مخکی له دی چی ددغو کمپونو د مهاجرینو حـالت د هرات ولایت په **کمپونو کی د اوسیدونکو مهاجرینو حالت ته ورسیږی او په بوه ناتار بدل شی د خـپـلو انسانی اصـولو لـه مـخی له دغـو مهاجرینو سره مرسته وکړی.**

په افغانستان ...

د ننګرهار ولایت د امارتي چارواکـو په ګـډون ددغـه ولایت د مـــقـــام د کنفرانسونو په تالار کی د یوی غــونډی په ترڅ کی وغندل شول.

په دی غـونډه کی چی د ختیځ زون د علمای کرامو او د ننـګـرهـار ولایت د بیـلابیلو امـارتی ادارو دچارواکـــو او د اړونـدو ولسوالیـو د ولسـوالانو په ګـډون جـوړه شـوی وه د خـتـیـځ زون د تنظیـمـه ریاست مرستیال محترم مولوی صدراعظم د ختیځ زون د عالمانو شورا رئیس محـتـرم مولوی حـاجی محمد، د بهسودو ولسوال محترم مولوی سید غلام نبی هاشــمی د ننګرهار ولایت دمرافعـه محکمی رئیس محـتـرم مـولوی صـالح محـمد حقانی او یو شمیر نورو عـالمانو او امـارتی چارواکـو د افـغـانسـتـان پر خـلاف د ملګرو ملتو د سازمـان د امنیت شـورا د بندیزونو په اړوند خبری وکړی.

وینااوالو دغه بندیزونه د بشر د حـقـوقـو د ټولو مـوازینو او مقرراتو پر خلاف او د افغانستان له مـسـلمـان ملت سـره څرګنده دښمنی وبلله او ددغو بندیزونو د غندلو په ترڅ کی یی له خلکو څخه وغوښتل چی په صبر او زغم سره د دغـه شـان غـیـر عـادلانه فشارونو په وړاندی مقابله وکړی.

په پای کی د ننګرهار ولایت د شریعت غږ راډیو د مسول محترم ملا محمد حنیف قریشی **لخوا په ۷ مـادو کی یو پریکړه لیک ولوستل شو.**

وضع مهاجرین ...

قرار میگیرند تعداد مریضان مصاب به سینه بغل ووفیات افزایش یافته و تا کنون حدود چهار صد نفر که اکثریت آنرا اطفـال تشکیل میـدهد تلف گردیده اند.

موصوف می افزاید: کمك ها و مـسـاعـدت هاي صـحي، محـروقـاتي و مواد خـوراكي از طرف مـقـام ولايت هرات، مـردم آنولایت و عده از موسسـات جریان داشـتـه اما با در نظر داشت شدت سرما و مشکلات عدیده بیجا شده گـان این کـمك ها کـافي نبوده و سـاکـنین کـمـپ ها به انتظار مـسـاعدت هاي بيـشـر از طرف سازمانها و موسسات خيريه اند.

محـترم حقيقي خبرنگار آژانس اطلاعـاتي باخـتـر از مسـاعدتهاي ديروز كه از جانب مـردم شـريف ولايت هرات با مهاجرين صورت گرفته چنين گزارش داد: مردم شريف ولايت هرات ديروز بطور دسـتـه جـمـعي بطرف مسجد جامع هرات بحركت آمده و همراه با خود اشياي مورد نياز مهاجرين كه شامل البسـه، مواد خوراكي و محروقاتي ميباشد به آنجا انتـقـال نمـوده تا بعـداً بدسترس بيجـا شده گـان قـرار گيرد.

همچنان ايشان الي ساعت دو بعد از ظهر ديروز مبالغ سه صد مليـون افغاني هفده هزار و چهار صـد كلدار و بيـسـت و سـه هزار تومان ايراني را نيز غرض كمك به مـهـاجـرين جـمـع آوري نمـوده به كـمـيـسـيون كه بمنظور كـمك به مهاجرين از نمايندگان شاروالي، رياست حج و اوقاف، رياست شهدا و مـهـاجـرين و رياست شـوراي نمايندگان تشكيل گرديده است تحـويل نمـودند پروسـه امـداد از طرف مردم الي پنجشنبه ادامه مي يابد.

همـــچنان توزيع مـــواد محروقاتي از طرف مقام آنولايت جريان داشـتـه و روزانه ده ها موتر چوب سـوخت در كـمـپ ها توزيع ميگردد.

خبرنگار علاوه مي نمايد كه علاوه از مساعدتهاي رياست سره مياشت ولايت و توزيع چهل تن گندم از طرف موسسـه دبليو ـ اف ـ پي شصت هزار قرص نان خشك و شانزده تن روغن از طرف شركت برادران صافي، يك مقدار روغن و يكتـعـداد كـفش از طرف شـركت علي بابا، يك تن روغن و هزار قرص نان از طرف ماركيت غزنوي **و ده تـن آرد و يـك انـدازه پول نقـد از طرف يكـتـن از تاجران ملي نيـز ديروز به بيجا شـده گـان مـسـاعـدت گرديده است.**

سیمینار تعلیمي استادان مدارس ...

بود مـحـتـرم مـولوي عبدالسلام حنفي معين تدريسي وزارت معـارف، محترم مولوي عبدالقهار هاشـمي رئيس تدريسات ثانوي، محـترم مـولوي حبيب الله منصور رئيس تدريسات ابتدايي و مفتي عبدالرحيم رئيس معـارف شهر كابل بالنوبه در رابطه به ضـرورت تدوير همـچـو سيمينار هاي علمي جهت بلند بردن سطح دانش مسلكي استادان صحبت نموده وظايف و مكلفيت هاي بعدي استـادان را در برابر تربيـه و تعليم اولاد وطن برجسـتـه سـاخـتـند سيمينار متذكره كه به مدت بيست روز ادامـه خواهد يافت به تعـداد يك هزار استاد از مدارس متوسطه و ثانوي شـهـر كـابل شـركت ورزيده اند.

محترم وزیر اطلاعات...

محترم جمال در پاسخ به يك سوال مبني بر چگونگي كمك هاي امارت اسلامي و مـجـامـع بين المللي به مهاجرين متذكره اظهار نمود از سوي امارت اسلامي به ارزش مـبـلغ ده هزار لك افغاني چوب سوخت و سه مليارد افغاني مساعدت پول نقد و ۳۲ تن خرما، مقام ولايت هرات يك ونيم مليارد افغاني پول نقد ۱۵۰۰ قطي روغن و ۱۵۰۰ بوجي برنج مـسـاعـدت تجار و مـردم ولايت هرات مـسـاعـدت صورت گرفته همچنان اداره يونيسف مـبلغ سي هزار دالر، سازمان صحي جهان مـبلغ ۱۸ هزار دالر و يك تعـداد همـوطنان مـا و موسسات [illegible] مواد خوراكي و البسه با مهاجرين مساعدت نموده اند كه اين كمك ها آنقدر چشمگير نبوده و ما خواستار افزايش هر چه بيـشـتر كـمك هاي عاجل مجامع بين المللي بخصوص سازمان ملل متحد به مهاجرين ميباشيم.

محترم جمال در جواب به سـواليكه سـر منشي سازمان ملل متحدگفته است كه طرفـهـاي درگيـردر افغـانستان دست از جنگ كشيده و در جهت صلح در كشور اقدام نمايند اظهار داشت: امـارت اسـلامي افغانستان از بدو تاسيس تا كنون خواهان صلح و ثبات در سرابر كشور بوده و است. اما در مقابل تحركات نظامي مخالفين كه دست به سـلاح برده و زندگي صلح آميز هموطنان ما را بر هم ميزند ما مجبور هستيم تا از وطن و مردم خود دفاع نماييم ولي تا جاييكه ديده ميشود ملل متحد از طرف هاي درگيرد ر افغـانستان تقـاضـاي قطع جنگ را ميكند و از سوي ديگر با مـخـالفـين ا.ا.ا كـمك و همكاري مينمايد كه اين خلاف موازين بين المللي ميباشد.

محترم وزير اطلاعات و كلتور در رابطه به اظهارات داكـتـر عبدالله سخنگوي مخالفين امارت اسلامي گفت اين جاي تاسف است كه داكتر عبدالله كه خود را به اصطلاح نمـاينده مـردم افغانستان معرفي ميدارد نميداند كه تعذيرات شوراي امنيت سازمان ملل متحد چه حوادث و اثرات منفي را متوجه مردم افغانستان نمـــوده با آنهم خــواستـار تشديد تعزيراتت متذكره ميگردد اين خود نشان ميدهد كه مـخـــالفـين امـارت اسلامي منافع شـخـصي خويش را نسبت به منافع علياي كـــشـور ترجيح داده و به همچـو دسايس و پلانها متوسل ميگردند.

معین وزارت ...

با محترم اندری سگرتو نماینده دفتر سیاسی سازمان ملل متحد و محترمه الین مسؤل انسجام کمك های بشری آن سازمان در کابل در رابطه به اعزام عازمین بیت الله شریف که از طریق پرواز های هوایی صورت میگیرد و این پرواز ها از تعـزیرات شـورای امنیت سازمان ملل متحد مستثنی گـردیده است صـحـبـت نمـوده و از مسؤ لین متذکره تقاضا نمود تا درزمینه جهت فراهم آوري سهولتهای بیشتر همکاری نمایند.

سپس مسؤلین متذکره جهت رفع موانع و فراهم آوری سهولت های بیـشـتر در زمینه وعده همکاری را ابراز داشتند.

په افغانستان باندي...

کیـدو د احتمـالاتو په شمول په ډیرو مسئلو د افغانستان د اسلامی امارت د بهرنیو چارو وزیر سره وغږیدو.

ښـــاغلی ویندرل وویل چی د ملګرو ملتـو د امنیت شورا د بندیز با وجود نوموړی د افغـانسـتـان اسلامی امـارت سـره ښی اړیکی لری نوموړی وویل: دغـه موضـوع چی زه طالبانو قندهار ته پرینبودم او د افغـانسـتـان د اسلامی امارت د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوی وکیل احمد متوکل سره می دوه هفتی مخکی اسلام آباد کی وکـتـل دا په خـپـله دا ښـیی چی زموږ شخصی اړیکی ښی دی او خپلو خبرو اترو ته یه دوام ورکوو.

زه د افغـانسـتـان د اسلامی امارت له چارواکو سره په دی تاکید کوم چی دغه بندیزونه د امنیت شورا لګولی دی او د امنیت شورا د خپلو غړو د افکارو په بنا کـار کوی عـمومی منشی په دی مسـئله کی بیطرفه دی او همدا وجه ده چی د ملګرو ملتو بشری مرستی هم د افغانستان سره روانی دی.

د غرب جرګی په هکله فرانســس ویندرول [illegible] ته ځه ویل نه غواړم خو صرف دومره باید ووایم چی په افـغـانـسـتـان کی باید دامی لازم شرایط وی چی لویه جرګه په کی وشی او په دغـو شـرایطو کی بو دا دی چی د افغانستان اسلامی امارت او د هغوی مخالفین یی باید ومنی.

در غرب افریقا ..

رسیده اند.

حکومت گینی اعلام کرده است که شورشیان اتحاد دموکراتیك گینی هفته گذشته چندین قصبه را در سرحد میان گینی ولایبیریا تصرف کردند.

حکومت های گینی لایبـیـریا و سـیـرالیـون هر کـدام به حـمـایت از اپوزیســـون کشـور یکدیگر متـهـم میباشند.

د ګهون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

در سال ۱۴۲۱ هـ ش به تعداد ...

از جـمله ۱۵۸ باب آن درشهر کـابل فـعاليت دارد و ۳۱۳۱ باب آن درسایر ولايات کشور درخدمت اولاد وطن قرار دارد.

نامبـرده تعـداد طلاب شـامل درمدارس مربوطه شانرا اینگونه ارقام نمودند:

درسـال ١٤٢١ درسراسر کـشـور شمار طلاب نهاری ولیلیه ما درمدارس عـصـری ودینی به ٧١٠٩٠٦ تن بالغ مـیگردد کـه از جـمله آن ٩٣٨٧٤ تن طالب العلم درمدارس مرکز وهمچنان به تعــــداد ٦١٧٠٣٢ تـن طالب العلم درمدارس سـراسـر کـشـور به استثنی مرکز فعالیت دارند.

موصـوف شـمـار استـادان موظف درمـدارس مـربوطه وزارت مـحـتـرم معارف را درسراسر افغانستان درسال ١٤٢١ هـ ق به تعــداد ٢٠٣٨٩ تن بیان داشت که از جمله این رقم شمار ٢١٣٧ تن از استادان درمدارس مرکز وهمچنان ١٨٢٥٢ تن دیگر درمدارس سـایر ولایات کـشـور مـعـروف تربیـه اولاد این مرز وبوم قرار دارند.

وی اضـافه کرد که تعداد مدارس لیلیـه دینی مـادرسـراسـر کـشـور به ١١٥٠ باب میـرسـد کـه از جـمله ٢٦ باب آن درمرکز ومتباقی آن به تعداد ١١٢٤ باب درسـایر ولایات کـشـور فـعـالیت دارند. دراین مـدارس بطور مـجـمـوعی ٩٨٠٠٠ طلاب مـعـروف فـراگـیـری علوم دینی مـیـبـاشـند و درپهلوی مـضـامـین علوم دینی مضامین عصری نیز تدریس میگردد.

مـحـتـرم حنفی شـمـار اسـتـادان مـوظف درمـدارس لیلیـه دینی را درسراسر کشور مجموعاً ٥٧١٢ باب خاطر نشـان سـاخت کـه از جـمله ١٧٩ تن آنان در مـرکـز و٥٥٣٣ تن آن درسایر مدارس معـروف تعلیم وتربیـه نونهالان این کشور قرار دارند.

باید گـفت کـه ریاست تألیف وترجمه وزارت معارف ا.ا.ا ومطبعه وزارت معارف در این اواخر دست به یك سلسـله فـعـالیت های مـفـیـد وارزنده برده وباتألیف وچاپ کـتـب جـدید مطابق به نصـاب تعلیـمی جدید دست آوردهای زیادی رانصیب گردیده اند که تاکنون کتب صنوف اول الی صنوف سوم کـاملاً چاپ وبه مدارس مربوطه توزیع گردیده است ومـتـبـاقی کـتـب کـه الی صنوف دوازدهم را دریر داردعنقریب اماده و به چاپ خواهد رسید.

در اخـیـر مـحـتـرم مـولوی عبدالسـلام چنین اظهار داشتند: ما از تمام ملت غیور کشور به خصوص از اولیا، طلاب عزیز تقاضا مینمائیم تا اولاد های عـزیز شـان را مطابق خواست زمان باروحیـه اسـلامی و وطندوستی تربیـه نموده درخدمت جامعـه خویش قرار دهند همچنان پیـام من برای سـایر اسـتـادانیکه درمدارس عـصـری ودینی مـعـروف پیـشـبـرد دروس وتربیـه اولاد وطن قـــرار دارند اینـســت تا وظایف خطیـرشانرا بوجه احـسن انجام داده مـسـئولیت دینی ودنیوی خویش را مطابق ارمـانهـای جـامـعـه مـا بسـر رسـانندودرتربیه اولاد کـشـور مطابق باشریعت غـرای مـحـمـدی «ص» از هیچگونه سعی وتلاش دریغ ننمایند. همچنان وی خاطر نشان ساخت که ما درآینده درنظر داریم که درقـسـمت افزودی مـعـاشـات اسـتـادان خویش تجدید نظر بکنیم ودست به اقدامات سـودمندی در این باب خـواهـیـم زد [illegible]

مصاحبه کننده: ذبیح الله «عزیزی»

در اوسلو جلسه ...

مسئولان کمیته جایزه صلح نوبل میگویند که تا کنون حد اقل سي نفر برنده گـان جـایزه صلح دعـوت شرکت درین مراسم خاص را پذیرفته اند.

نلسن ماندیلا رئیس جمهور قبلي افریقاي جنوبي که در سال ۱۹۹۳ جایزه صلح نوبل را بدست آورد تنهـا برنده است کـه تا کنون دعـوت شـرکت درین مـراسـم را نپذیرفته است.

جـایزه صلح نوبل در شـهـر اوسلو پایتخت کشـور ناروي اهدا میگردد کمیته نوبل درسویدن نیز میگوید که درشهر سـتـوکـهـولم پایتـخت آنکشور نمـایشگاه در مورد تاریخچه این جایزه برگزار میگردد.

جایزه صلح نوبل براي اولین بار در سـال ۱۹۰۱ میلادي اعطا شده است.

زلزله شدیدي ...

شدت هفت اعـشـاریه نه درجه ریکتر ایالت گجرات آنکشور را با خاك یکسان کرد.

درین زلزله سي هزار نفر کشته و ده ها هزار تن دیگر مجروح گردیدند رقم کسانیکه از اثر این زلزله منازل شانرا از دست داده اند به نیم ملیون نفر بالغ مـیـگردد این تعـداد با سرماي شدید امراض و گـرسنگي دست و گریبان میباشند.

درکشور اکوادور ...

حکومت اعـتـراض نمـوده و خـواهان کـاهش قیـمت ها میباشند کشور اکوادور در امریکاي مرکزي موقعیت دارد.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press